
# ۲ بعدي او ۳ بعدي شکلونه

| | |
|---|---|
| درجه | لومړی درجه (د عمر ګروپ له ۶ څخه تر ۷ پورې) |
| د ارتیا ور سرچینې | پنسل او رقه<br>شکلي کارتونه |
| د سرچینو لپاره بدیلې لارې | تاسو کولی شئ د توکر یوه ټرانګه، خته، د غاښونو لرګي، یا هر هغه څه چې له هغو څخه ابتدايي شکلونه جوړیدی شي استعمال کړی.<br><br>که چیرته دا شیان موجود نه وي، زده کوونکي کولی شي د شکلونو د رسم کولو لپاره له پنسل او کاغذ څخه کار واخلي<br><br>د شکلونو کارتونو د جوړولو لپاره<br>1. د خپل ورغوي په اندازه ورق پرې کړئ<br>2. په کارتونو باندې دوه بعدي او درې بعدي شکلونه رسم کړئ او نومونه یې پرې ولیکئ. (د بیلګو لپاره انځورونه وګورئ) |
| د پوښتنې موضوع | شکلونه او اندازه ګیری |
| په نښه شوی مهارت | دوه بعدي او درې بعدي شکلونه په مختلفو اندازو کې تحلیل او مقایسه کړئ |
| الهام اخیستنه | Third space Learning |
| ټولټال وخت | ۳۰ دقیقې |
| د چمتو کیدلو لپاره وخت | ۱۰ دقیقې |
| د لوبې کولو لپاره وخت | ۲۰ دقیقې |
| پخوانیو درسونو ته اړتیا | د دوه بعدي او درې بعدي شکلونو نومونه |
| ملاتړ ته اړتیا | منځنۍ خارنه |

**د لوبې قوانین:**

| | |
|---|---|
| موخه | هغه لوبغاړی چې ترټولو ډیرې نمرې ترلاسه کړي، د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. |
| قوانین | د خپل نوبت په پیل کې، لوبغاړي کولی شي د دوه بعدي شکلونو د ښکاره کولو لپاره ده ګوتې او د درې بعدي شکلونو لپاره درې ګوتې استعمال کړي. |

| | |
|---|---|
| **مرحلې** | لومړۍ مرحله: د اوطاق مخې ته د شکلونو کارتونه سرچپه را غونډ کړئ.<br><br>دوهمه مرحله: په هر پړاو کې یو زده کوونکی انتخاب کړی چې د اطاق مخې ته راشي.<br><br>دریمه مرحله: زده کوونکی د شکلونو له کارتونو څخه یو کارت انتخاب کوي او هڅه کوي چې د خپل بدن په واسطه هغه شکل جوړ کړي.<br><br>څلورمه مرحله: متباقي ټول زده کوونکي د لومړي زده کوونکي د شکل جوړونې په اړه فکر کوي او خپل اټکل شوی شکل په ورقه باندې لیکي.<br><br>پینځمه مرحله: کله چې ټولو زده کوونکو خپل اټکلونه وکړل، هغوی به خپلې ورقې اوچتې کړې ترڅو ښوونکی وکولی شي د هغوی لیکل شوي ځوابونه ووایې.<br><br>شپږمه مرحله: هر هغه زده کوونکی چې د شکل په اړه یې سم اټکل کړی وي، یوه نمره ترلاسه کوي. هغه زده کوونکی چې شکل یې تمثیل کړی د ټولو صیحو اټکلونو په اندازه نمرې ترلاسه کوي.<br><br>اوومه مرحله: له ۲ څخه تر ۶ پورې ټولې مرحلې تر هغه تکرار کړی ترڅو چې هر زده کوونکي ته نوبت ورسیږي.<br><br>اتمه مرحله: هغه زده کوونکی چې تر ټولو ډیرې نمرې په پای کې ولري، د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. |

<table dir="rtl">
<tr>
<td>انځورونه</td>
<td>
</td>
</tr>
<tr>
<td>په لوبه کې بدلونونه</td>
<td>

- دا لوبه کې کولی شی د ځینو ځانګړتیاو د پیژندلو لپاره ترسره کړی: (لکه، اوږدوالی، اړخونه، څنډې او داسې نور.)
- ددغو شکلونو د تشریح کولو لپاره زده کوونکي کولی شي له خپل بدن څخه کار واخلي
- زده کوونکي همدا راز کولی شي چې په خپلو ګروپونو کې دا شکلونه له خپل بدن څخه جوړ کړي

</td>
</tr>
<tr>
<td>غني کوونه</td>
<td>

- د ډیرو ستونزمنو شکلونو څخه کار واخلئ لکه اته ضلعي، لس ضلعي، ستورو او داسې نورو څخه

</td>
</tr>
<tr>
<td>آسانه کوونه</td>
<td>

- تنها له دوه بعدي شکلونو څخه کار واخلئ
- زده کوونکي په دوه ګروپونو وویشئ ترڅو هغوی وکولای شي د شکلونو د اټکل کولو لپاره یوځای فکر وکړي.

</td>
</tr>
</table>